# د صاحب شاه صابر په شاعرۍ کښې د رومانویت ځانګړنې

## Characteristics of romanticism in Sahib Shah Saber's poems

Farhad*
Dr Sher zaman Seemab**

**ABSTRACT**

Romanvite ,which is called Romanticism in English, is a literary movement that originated in the western world in the last decades of the 18th century against classicism and continued until the middle of the 19th century. The nucleus of this literary movement primarily came to existence in Germany, but when the political revolutions took place in France and America, that was stimulus to this intellectual movement to spread all over Europe, especially in England. Later, it found its way to Russia and other literatures of the world, Moreover, it found strength and grasp most of all in France, then in the late 20th century, it entered Pashto literature as a literary movement through Urdu literature. Pashtun poets and writers, both in verse and in prose, wrote in an organized and systematic manner, among these poets are Fazal Haq Shaida, Syed Rosol Rasa, Ashraf Muftun, Hamza Shinwari, Ghani Khan, Qalandar Momand, Abdul Rahim Majzoob, Sahib Shah Saber, Yunus Khalil, Riyad Tasnim, Ikramullah Gran and many more can be mentioned. Sahib Shah Saber has brought romanticism in contemporary Pashto ghazal ably, he has presented beautiful imagination and ideas in his poetry, he has described the romantic image of his Pashtun life and environment with sweet and exquisite words, in addition to that, His ghazal has reached a steep Ascension. Most of the characteristics of romanticism in poetry, such as poetic rebellion, free expression of thoughts and ideas, colorful scenery, aestheticism, true interpretation of one's environment, appreciation of nature, hatred of war, desire for peace, development in the whole world and many more have been brought by him.

**Key words**: Humanism, Aesthetism Poetic rebellion, Imagery, Naturalism

* Ph.D Scholar, Pashto Academy, University of Peshawar.
** Assistant Professor, Pashto Academy, University of Peshawar.

رومانویت یا رومانیت چې په انګلیسي ژبه کښې **Romanticism** ورته وائي، دا هغه ادبي تحریک دے چې په غربي نړۍ کښې د اتلسمې میلادي پېړۍ په وروستیو لسیزو کښې د کلاسیزم پر ضد رامنځ ته شو او د نولسمې میلادي پېړۍ تر نیمایي پورې یې دوام وکړ.

رومانویت یا رومانتسیزم یوه ادبي اصطلاح ده او په ادبي نړۍ کښې د یوه باقاعده ادبي تحریک نوم هم دے، د یاد ادبي تحریک د معنا او مفهوم په هکله د ځینو ادیبانو او څېړونکو تعریفونه په لاندې ډول دي:

خواجه محمد سائل په خپل کتاب رومانویت او عبدالحمید بابا کښې داسې کښلي: "رومان "**Romance**" د زړې فرانسیسي ژبې "**Romanz**" څخه اخذ دے چې مطلب یې د عام خلقو خبرې دي د رومان څخه بل تړلے ملحق لفظ روماني "**Romantic**" دے"(**1**).

رومانتېزم یو انقلابي خوځون دے؛ شعارونه یې فلسفي او سیاسي خبرې دي، د انسانانو حساسیتونه ښکاره کوي او شخص ته فردي حقونه غواړي. لومړے رومانتیک یو ستاینوم و، چې په اروپایي ژبو کښې یې د بېلابېلو کلمو ذکر راغلے و. (**Romantc, Romantisch, Romantico, Romantique**) یې بېلې بېلې بڼې تشکیلوي چې کره محصول یې د رومانتېزم کلمه ده، رومانتیک ستاینوم په اصل کښې د منځنۍ پېړۍ د لاتیني ژبې له رومانتیکوس (**Romanticus**) څخه مشتق او په تدریجي ډول یې په اوولسمه پېړۍ کښې رواج وموند"(**2**).

ډاکټر نصیب الله سیماب په خپل کتاب د کره کتنې اصطلاحات کښې داسې وایي: "رومان په اصل کښې د لاطیني ژبې توررے (**Romaniee**) دے، لومړے دا تورے د هغه قیصو د پاره پکار راوستل کېږي چې په هغه کښې به د زړو خلکو او اتلانو، د بهادرۍ او جانبازۍ ذکر و، لاطیني ژبې څخه دا تورے انګریزي ته راغلے، اکسفورډ ډکشنرۍ دا تورے په لومړي ځل د ګریول د تنصنیف (حیات سډني) په حواله نقل کړے ؤ، له دې وروسته ایونلم په خپله ډائرۍ چې د لیکلو نېټه ۱۳د اګست (۱۶۵۴) ده؛ د رومانوي تورے د نیچر په معنا کښې استعمال کړے، له دې وروسته دې توري د دا رنګه قیصو هیئت یا

مواد يې درلود لکه د تخيل پر وزر غير حقيقي واقعات وغيره او کله کله به له دې څخه مراد غير حقيقي او افسانوي هم اخيستل کېږي"(3).

رومانويت چې د کلاسيکيت پر ضد رامنځ ته شوی په رومانتسيزم کښې تخيل او جذبات په عقل او تفکر باندې غالب کېږي او برى مومي چې په دې برخه کښې د فضليات له کتاب څخه دا اقتباس راخلو:

**"Romanticism and classicism are two keys by which we always open the safe of literature. In every piece of literature there are four things, Imagination, Emotions, Reason and Intellect. Whenever the first two dominate over the last two that is Romanticism and the two opposite trend is called classicism".(4)"**

ژباړه: رومانتسيزم او کلاسيزم دوه کلياني دي چې پرې د ادب خزانې پرانيستل کېږي، د ادب په هره پنځونه کښې څلور شيان: تخيل، جذبات، عقل او هوښيارتيا وي کله چې لومړني دوه په وروستنيو دوو بريا ومومي نو دې ته رومانويت ويل کېږي او کله چې د دې ميلان مخالف شي نو بيا کلاسيکيت دی.

لغت نامه دهخدا کښې د رومانتيسم داسې تعريف شوے دے:

"رمانتيک از کلمه رمان فرانسوی و مراد سبکی است در نويسندگی که مربوط به مسيحت و ادبيات قرون وسطی و مخالف مکتب کلاسيک قديم است، درين سبک نويسنده گان در بيان تخيلات و تجسم افکار خود آزادی کامل دارد"(5).

ژباړه: رومانتيسم د فرانسوي ژبې له رومان څخه اخيستل شوے، د ليکنې هغه سبک دے چې د مسيحيت او منځنيو پېړيو ادبياتو سره تړاو لري او د لرغوني کلاسيکي ښوونځي مخالف و، په دې سبک کښې ليکوال د خپلو افکارو او خيالونو په وړاندې کولو کښې بشپړه ازادي لري.

دا چې رومانوي تحريک د کلاسيکي فني او فکري قوانينو او اصولو پر خلاف په لويديځ کښې رامنځ ته شو نو ورو ورو يې د نړۍ ادبياتو ته لار پيدا کړه چې د شلمې پېړۍ په وروستيو کښې پښتو ادب ته هم د يوه ادبي تحريک په توګه د اردو ادبياتو له لارې رانوت او پښتنو شاعرانو او ليکوالو لخوا هم په نظم او هم په نثر کښې په منظم او سيستماتيک ډول وپالل شو، چې په دې شاعرانو کښې فضل حق شيدا، سيدرسول رسا، اشرف مفتون، حمزه

شینوارے، غني خان ، قلندر مومند ، عبدالرحیم مجذوب، صاحب شاه صابر، یونس خلیل، ریاض تسنیم، اکرام الله ګران او داسې نور یادولے شو.

صاحب شاه صابر چې د پښتو معاصر ادب یو وتلي پښتون شاعر دے، په شعر کښې یې ښکلي تصویرونه او خیالونه وړاندې کړي دي، په غزلو کښې یې تغزل په رښتینې توګه راوړے، د خپل پښتني ژوند او ماحول روماني تصویر یې په خوږو او حسینو لفظونو سره بیان کړے او غزل یې د معراج هسکو پوړیو ته رسولے دے.

بریالي باجوړي په خپل کتاب معاصر تاریخ کښې د صابر په اړه داسې لیکلي:

"" صاحب شاه صابر د پښتونخوا هغه نومیالے شاعر و چې څومره یې حق و هغومره نه و راڅلېدلے او نه دده په تخلیق دومره کار شوے و، دے د غزل نوموتے شاعر و چې د غزل رنګینو یې غزل ته ځانګړے رنګ ورکړے دے"(6).

صاحب شاه د روماني احساس لرونکے شاعر و، د انسانیت، ترقۍ، امن، ازادۍ، مینې او محبت شاعر و چې د وخت او حالاتو ښه ترجماني کړې ده او په رنګین او رومانوي انداز کښې یې خپل پیغام خلکو ته وړاندې کړے دے.

د رومانویت له ځانګړنو څخه یوه اهمه ځانګړنه داده چې رومانوي احساس لرونکے شاعر به د انسانیت شاعر وي هغه به د قوم نسل، ژبې او مذهب له دایرې نه لوړ او اوچت وي، هغه به د ټول انسانیت له پاره ازادي، امن، پرمختګ او خوشحالي غواړي او د هر رنګه ظلم، قید او وحشت پر وړاندې به خپل غږ اوچتوي، نو د همدې ځانګړنې پر بنسټ که د صابر شاعري وکتل شي نو دا ترې په ډاګه څرګندېږي چې نوموړے د انسانیت، مینې او محبت علمبردار شاعر دے.

هغه په یو بیت کښې د ټولې نړۍ له پاره امن، حسن او خوښي غواړي، وایي چې زما د زړه خوښي او ارامي په دې کښې نه ده چې یوازې دې زما وطن په امن وي بلکې ټوله نړۍ دې په امن او سوکالۍ کښې ژوند وکړي.

"زه امن غواړم، حسن غواړم خو په ټوله نړۍ
د زړه درزا مې د وطن څولۍ کښې نه ځایېږي"(7).

صابر له جنګه پاکه نړۍ غواړي هغه له جنګه کرکه لري دا ځکه چې جنګ د تباهۍ او بربادۍ دوهم نوم دے، جنګ ناهیلي خپروي، جنګ له خلکو

خوشحالي، ارامي او خوښي اخلي نو ځکه هغه وايي چي ترڅو جنګ وي؛ نه نړۍ امن لیدلے شي او نه هلته پرمختګ راتللے شي، هغه د جنګ ادې مړه غواړي او وايي چي تر څو دغه لیونتوب وي نه نړې او نه ټول انسانیت په امن او امان کښې کیدلے شي او او نه هلته کښې تهذیب راتللے شي.

"چې د جنګ د لیونتوب ادې مړه نه وي
نه انسان امن لیدے شي نه تهذیب شي"(**8**)

صابر له نفرت او کرکې نه بېزاره دے، په ښارونو کښې چي د خلکو ترمنځ کوم نفرتونه موجود دي هغوے ته دښمن په نظر ګوري او وايي چي ما اصلاً په دې ښار کښې د مئینو امامت کړے او ځان د مینې او محبت امام بولي لکه په دې بیت کښې:

"زه د دې ښار د نفرتونو د بتانو دشمن
ما په دې ښار کښې د مئینو امامت کړے دے"(**9**)

رومانویت د شاعرانه بغاوت نوم هم دے، رومانوي شاعر د خپل فکر او خیال د بیان له پاره له مذهبي او ټولنیزو اقدارو څخه بغاوت کوي او تل له دې قوانینو څخه په تېښته وي.

هغه فکري ازادي چي د شاعر د فکر په بیان کښې بشپړه خپلواکي تمثیلوي، شاعرانه بغاوت دے "(**10**).

صابر په یوه غزل کښې د خپل فکر او خیال بیان په ازادانه توګه وړاندې کړے دے، هغه د زړه خوړوالے په میخانه او ګلاب کښې ویني، د ځوانۍ او شباب د وخت خطا؛ خبر بولي او په دې وخت کښې د شونډو ځکل او ښکلول ثواب ګڼي، ګناه کولو ته نعمت وايي او وايي چي اصلاً واعظ او محتسب د ګناه له نعمتونو څخه خبر نه دے نو ځکه پر دوی د خدای عذاب دے.

"په فطرت کښې مې مستي او اضطراب دے
چې مې خوږ په میخانه زړه په ګلاب دے
د ځوانۍ او د سپرلي خطا د خبر ده
په دې ورځو کښې د شونډو ځکل ثواب دے
په ګردش حرکت کښې هسې نه یم

د موسم په طبیعت کښې انقلاب دے
د ګناه د نعمتونو خبر نه شو
په واعظ او محتسب د خدای عذاب دے
د زړه سترګې مې د وخت د غمه خوږ دي
ګنې څه د چا پړونے څه عقاب دے
د وعدې ملوکې لاس رانه چاپېر که
ګنې بیا مې د چا غېږ ته زړه خراب دے
انحصار یې د ساقي په سخاوت دے
لېونے صابر په بس نه په حساب دے"(**11**).

صابر په یوه بل بیت کښې د یار د سترګو په ستاینه کښې شاعرانه بغاوت تر دې ځایه کړے چې په هغې باندې ایمان راوړلو په پار ځان له کفر نه خلاص بولي او د هغوے ستاینه حقه او پر ځای ګڼي.

"چې صابر غوندې کافر پرې ایمان راوړه
هغه سترګو ته په حقه په ځان ناز دے"(**12**)

صابر صاحب په یوه بل شعر کښې د ښکلو څخه د بوسې اخیستل د ایمان تازه والے ګڼي او وایي کله چې یوه ښکلے ښکل کړي نو هله به د سړي ایمان تازه شي:

"چې د ښکلو بوسه واخلي
د سړي ایمان تازه شي
د دنیا سترې غمونه
د صابر سره دمه شي"(**13**)

صابر شاعرانه بغاوت تر دې ځایه دے چې د شرابو په نشه کښې عبادت کوي او د هر ګوټ په کولو سره یې د یارد سترګو ذکر او یادونه کوي د بېلګې له پاره یې دا بیت:

"ما د هر ګوټ سره د یار د سترګو ذکر کړے
ما د شرابو په نشه کښې عبادت کړے دے"(**14**)

صابر سره د دې چې د خپلو خيالاتو د اظهار له پاره شاعرانه بغاوت کړے او څه نا څه يې مذهبي او ټولنيز روايات مات کړي خو بيا هم د مينې او محبت په برخه کښې خپل محبوب ته له خپلې پښتو څخه تېر شوے نه دے او دغه محدوده يې ټينګه نېولې ده لکه په دې بيت کښې:

"مينه منم خو پښتو نه ماتوم
ستا نه بغير به ګوزاره کومه"(15)

طبيعت له ښکلاوو جوړ دے، چې د هر انسان د ذوق برابرې ښکلايزې منظرې لري، سره د دې چې دغه ښکلاوې فردي نه دي مګر هر فرد ور څخه د خپل مزاج او خوښې بېلګې او نمونې راغونډوي او د خپل ښکلايز احساس تنده پرې خړوبوي.

د يوې واقعې يا د يوه حالت پوره پوره تصوير راښکل منظرکشي يا منظرنګاري ده چې دا د واقعه‌نګارۍ يو قسم دے خو فرق په کښې دا دے چې په واقعه نګارۍ کښې واقعه انفرادي حيثيت لري د دې خلاف د واقعې مناظر د دې د کيفيت او کيفيتونو نوم دے چې د ډېرو واقعو نه يا د واقعو د جزياتو نه جوړېږي"(16).

په ټوله کښې منظرکشي د خلکو له احساساتو، جذباتو او داخلي کيفيت سره نېغ په نېغه اړېکه لري، د ښې او لوړې معياري منظرکښنې لرونکې ادبي پنځونه او تخليق يو لوړ او شاهکار ادبي تخليق ګڼل کېږي، په رومانويت کښې په شعوري توګه دا هڅه شوې چې يوه ادبي پنځونه او ادبي تخليق د يوې ښې منظرکشۍ لرونکے وي.

د رومانويت دغه ځانګړنه صابر په خپلو شعرونوکښې په خورا ښکلي انداز او هنري الفاظو سره وړاندې کړې ده چې د ده د لوړ شاعرانه ذوق نمايندګي کوي، تاسو دده دا لاندې بيتونه وګورئ چې په څومره ښکلو هنري ترکيبونو سره د خپل يار او جانان غمونه د سپوږمۍ په رڼا کښې د شوګير په تارونو کښې پېري او په دې سره د خپل زړه زخمونه بلوي او را تازه کوي او يوه ښکلې رومانوي فضا يې رامنځ ته کړې ده:

"د شوګير په تار کښې پېرم د جانان د غم ګلونه
د سپوږمۍ رڼا ته ناست يم بلوم د زړه زخمونه

د هستي رباب په غیږ کښې د حالاتو ادم خان یم
د سپرلي درخو ته ناست یم سروم د زړه تارونه
موږ په زړونو کښې ځای ورکړو زموږ سترګو کښې غړیږي
د ماښام د سترګو اوښکې د سهار د زړه زخمونه
د اټک په مخ بهیږي د چترال د سترګو اوښکې
د امو رودونه ژړاړي د چمن مړاوې ګلونه
د وحشت تورو تیارو کښې مشالونه شي ډیوې شي
د صابر د نظر غشے د صابر د پښو ګردونه"(17)

د سپرلي سرلیک لاندې نظم کښې صابر صیب د سپرلي یوه ډېره ښکلې او رومانتیکه منظره وړاندې کړې ده، د خیبر پر زړه د ستورو د قافلو دېره کېدل، د سپوږمۍ جرګه د تاترې او ایلم له غرونو سره، د بولان سره د زهره غېږه په غېږه او خوله په خوله کېدل، د چترال په واورو کښې د لمر د پلوشو او وړانګو اوبه کېدل یې په ښکلو هنري ترکیبونو سره داسې پېیلې چې د شاعر رومانوي ذوق او جمالیاتي سرور ترې له ورایه ځرګندېږي:

"د ستورو قافلې چې د خیبر په زړه دېره شي
سپوږمۍ د تاترې او د ایلم سره جرګه شي
بولان سره زهره غېږه په غېږه، خوله په خوله شي
په واورو د چترال کښې پلوشې د نمر اوبه شي
په هره لاړ د حسن د احساس اورونه بل شي
په هر زړه کښې د مینې غورځنګونه په غوبل شي
د هر ګودر په غاړه د درخو د بنګړو شړنګ شي
د هر کاڼي نه پورته د ادم د رباب ترنګ شي"(18)

د رومانوي شاعرانو یوه ځانګړنه داده چې د خپلو جذباتو او خیالاتو اظهار په ازادانه توګه کوي، دوی وایي چې د فکر او خیال ازادي د انسان ذاتي حق دے او د ژوند په بشپړې ازادۍ باور لري، په دې اړه حنیف خلیل صاحب داسې وایي:
«د رومانویت غټو غوښتنو کښې د فکر او خیال ازادانه اظهار، جمالیاتي سرور خورول د فطري حسن ترجماني او روحاني کیف خپلول دي"(19).

د پورتنۍ ځانګړنې له مخې د صابر صاحب شاعري پوره مالامال ده، ده په ازادانه توګه په رنګینو او هنري الفاظو سره د خپلو جذباتو او خیالاتو اظهار کړے دے د بېلګو په توګه يې لاندې بيتونه راوړو:

"د زړه د درده لېونے شوې که نه
زما صابره ته سړے شوې که نه
تا د الفت معجزه نه منله
زه چې لمبه شوم ته لوګے شوې که نه"(20)

يا دا بيتونه:

"يوه ساده غوندې جنۍ ده يوه شډله پښتنه ده
چې زما په زړه کښې اوسي زما سترګو کښې دېره ده
هر احسان هره جذبه مې د وطن د ناموس غږ شي
هر امين ته خيبر نيسي هر بيربل ته کاټکله ده"(21)

"لکه ګل په خپلو وينو کښې موسکے شوم
تا په خپل يقين کښې مړ کړم زه ژوندے شوم
تا په يو ظلم په زور خاموشه ولم
زه باغي شوم د هر ظلم مخنيوے شوم"(22)

د رومانويت له اهمو ځانګړنو څخه د فطرت او فطرتي شيانو او مظاهرو سره مينه هم ده، دا رنګ شاعران خپلې خوشحالۍ د فطرت په مظاهرو کښې لټوي چې په دې هکله حنيف خليل صاحب داسې ليکي:

"دريمه تقاضا د رومانويت داده چې رومانوي شاعر به خپله خوشحالي او تسکين د فطرت په حسينو اجزاو کښې لټوي او په خپله شاعرۍ کښې به د دغه فطرت عکاسي کوي"(23).

د فطرت او فطرتي مظاهرو سره مينه او علاقه د صابر صاحب د شاعرۍ يوه ډېره غني برخه ده، ده په خپلو شعرونو کښې د فطرتي شيانو ډېره ښکلې او حسينه عکاسي کړې ده او تر ډېره حده يې د فطرت او فطرتي مظاهرو څرګندونه او ستاينه په لوړ رومانوي انداز سره کړې ده.

دلته يې د فطرت تر سرليک لاندې شعر د بېلګې په توګه راوړو چې د فطرت يو رنګين او رمانوي انځور يې وړاندې کړے دے، په ياد نظم کښې وايي که چېرې په نغمو او سازونو باندې بنديز ولګي، پرهرونه ويده او ارمانونه کاڼه شي، د زړونو څړيکې ښې او دردونه ختم شي او په ټوله نړۍ کښې کراره کراري شي، خو بيا هم دا د فطرت قانون دے چې خاموشي به ماتېږي او په زمانه کښې به بدلون او تغير راځي:

"**فطرت**

که نغمې ټولې ګونګۍ شي
که سازونه زنځيري شي
د ګلونو بې وسي شي
تکلونه تېزندۍ شي
پرهرونه ټول اوده شي
ارمانونه ټول کاڼه شي
څړيکې څړيکې زړونه ښه شي
د دردونو ادې مړه شي
خو بيا هم چرته څه کېږي
خو بيا هم جهان بدلېږي
چرته ورپېږي پاڼه
چرته وخاندي ګلونه
چرته وغړېږي سترګې
چرته وخوځېږي غرونه"(**24**).

صابر صاحب يو ډېر حسن پرست شاعر دے، ده د فطرت په هر ډول عناصرو کښې حسن او ښايست لټولے دے، د حسن د تصور يې په ازادانه توګه اظهار کړے ده او يوه رومانوي فضا يې رامنځته کړې ده د بېلګې له پاره يې لاندې بيتونه راوړو:

"سپين تنکي غاټول او سره ريدي مې در له راوړه
غرونه مې راوړے نشو سپرلي مې در له راوړه

ما د کوه قاف ښاپېرۍ څه کولې راغلم
ستا د پاره تللے وم غمي مې در له راوړه
تا وے چي د بنګړې ګډا ډېر غمونه ورک کړه
ما وے چي خوشحاله شې بنګړي مې در له راوړه
خیال د مستې پېغلې او د مات منګي ټیکرې
زړه! د خپل وطن مازیګري مې در له راوړه
تا خو د جامونو توبه کړې ده واعظه!
واخله شراب وڅښه کټوري مې در له راوړه
ته د شپې د لارې د تیارو نه یرېدلې
را شه د دنیا اورورکي مې در له راوړه
ډېر که مې زړه وغوښتل چي ډېر څه در له راوړم
هېڅ مې پیدا نکړه اسویلي مې در له راوړه
وخته هغه ستا راکړي تا له درکوم
لپه که په لپه کښې ازغي مې درله راوړه
ما وے چي یوائې یې خپه به یې صابره
راغلم د خالونو ښاپېري مې در له راوړه"(25)

صابر تر دې حده حسن پرست دے چي خپل ایمان او باور پر ښایست بولي، هغه د چمن د ګل او ازغي دواړو سره یو شان مینه لري او وایي چي د سپرلي ښایست په ګل او ازغي دواړو کښې پروت دے دا ځکه چي هر یوه سپرلي او طبیعت ته ځانګړې ښکلا ورکړې ده لکه په دې بیتونو کښې:

"چې ایمان مې په ښایست دے چي یقین مې په سپرلي دے
د چمن غم زما غم دے که په ګل که په ازغي دے
د سپرلي تمه ګواه ده چي زما د پرهر فکر
د ازغو په څوکو اوسي د ګلونو ارماني دے"(26)

د روزمره ژوند او زندګۍ ترجماني د رومانوي شاعرۍ یوه بله ځانګړنه ده، دوی د خپلې خواو شا د حالاتو او لیدنکو شیانو انځور په ډېر ښکلي او حسین انداز سره کوي، په دې هکله حنیف خلیل صاحب داسې وایي:

« د رومانویت نه دا هم مراد اخیستے شي چي په روزمره زندګۍ کښې چي څه موجود دي د هغې ترجماني دې وشي او هر هغه څیز چي تعلق یې د انساني ژوند سره وي د هغې نه دې پرده پورته کړے شي"(27).

صابر صاحب د خپلې تولنې او ماحول ډېره ښکلې ترجماني کړې ده، د خپلو خلکو د ژوند حالات یې په حسین او رنګین انداز سره انځور کړي دي، ده په یوه غزل کښې د خپل قام هغه لویه بدبختي چي تل یې په پردي جنګ کښې برخه اخیستې ده او هم یې پکښې خپل سر بایللے؛ په داسې ښکلي رومانوي انداز سره انځور کړې ده:

"په چمن کښې که ګلونه که ازغي مري
خو زما د کور ښایست زما سپرلي مري
دا مې لویه بدبختي نه ده نو څه ده
په پردي جنګ کښې زما د بڼ زمري مري
د دنیا روزګار په سوله په صلاح شي
کوم قامونه چي د جنګ په لوري ځي مري"(28)

صابر د رومانوي شاعرانو په څېر په خپلو شعرونو کښې تر ډېره ځایه کلیوالي ژوند ستایلے دے، د ښاري ژوند پر ځای یي له کلیوالي او ساده ژوند سره مینه ښودلې ده، د خپل کلي کوڅې، ختین کورونه، ساده ماشومان، له شور او هنګامو ډک ماحول، ګودر، د کلي مازیګر، د ملګرو سره ناسته ولاړه او داسې نور یې په ښکلو الفاظو او هنري ترکیبونو سره انځور کړي دي.

## پایله:

صاحب شاه صابر د معاصر غزل یوه نومیالۍ څهره ده، په شعر کښې یې ښکلي تصویرونه او خیالونه وړاندې کړي دي، په غزلو کښې یې تغزل په ښتینې توګه وړاندې کړے دے، د خپل پښتنې ژوند او ماحول روماني تصویر یې په خوږو او حسینو لفظونو سره بیان کړے دے او غزل یې د معراج هسکو پوړیو ته رسولے دے. شعرونو یې د رومانویت زیاتره خصوصیات لري، د کلهم انسانیت له پاره د ازدایۍ،پرمختګ، امن او خوشحالۍ غوښتونکے دے، د هر

قسمه جبر او ظلم خلاف يې غږ اوچت کړے، د فطرتنګاري او منظرنګاري په ډېره ښکلې بڼه وړاندې کړې ده، يو ښه حسن پرست شاعر دے چې د خپل زړه خوشحالي او تسکين يې د فطرت په حسينو اجزاو اوشيانو کښې لټولے دے، د خپل ماحول او پښتني ژوند ښه ترجماني کړې ده او خپل فکر او خيال يې په ازادانه او رومانوي انداز سره وړاندې کړے دے.

# حوالې

(1) سائل، خواجه محمد. رومانويت او عبدالحميد بابا، اعراف پرنټرز، پېښور، دويم چاپ، ۲۰۱۹، مخ ۷۴.

(2) کومکي، هېواد بريال، نوے مستقبل خپرندويه ټولنه، کابل، ۲۰۱۷، مخ ۶۶.

(3) سيماب، نصيب الله، د کره کتنې اصطلاحات، پښتو اکېډيمي کوټه، ۲۰۱۹، مخ ۲۱۴.

(4) خټک، فضل مير، فضليات، درېم اشاعت، اعراف پرنټرز، پېښور، ۲۰۲۱م، مخ ۲۹۶.

(5) ده خدا، علي اکبر، لغت نامه دهخدا، جلد هشتم، چاپ دوم از دوره جديد، مؤسسه انتشارات و چاپ دانشگاه تهران، ۱۳۷۷ش، مخ۱۲۲۳۱.

(6) باجوړے، بريالے، د پښتو ادبياتو معاصر تاريخ (اوښتون پړاو)، جهان دانش خپرنديه ټولنه، کابل، ۱۴۰۱ل، مخ ۲۶۷.

(7) صابر، صاحب شاه، کليات، د سنګر شاه او ځيګرشاه په زيار چاپ، ۲۰۲۱م، مخ ۲۰.

(8) همدا اثر مخ ، ۳۸.

(9) همدا اثر، مخ. ۱۹۰

(10) ځپاند، عبدالجبار، روماني سرود، سروش کتابپلورنځے، کابل، ۲۰۱۸م، مخ ۴۹.

(11) صابر، صاحب شاه، کليات، د سنګر شاه او ځيګرشاه په زيار چاپ، ۲۰۲۱م، مخ ۸.

(12) همدا اثر، مخ ۳۹.

(13) همدا اثر، مخ ۲۵۸.

(14) همدا اثر، مخ ۱۹۰.

(15) همدا اثر، مخ ۱۷۱.

(16) خټک، فضل مير، فضليات، درېم اشاعت، اعراف پرنټرز، پېښور، ۲۰۲۱م، مخ ۵۱۵.

(17) صابر، صاحب شاه، کلیات، د سنګر شاه او ځیګرشاه په زیار چاپ، ۲۰۲۱ م، مخ ۱۰۴.
(18) همدا اثر، مخ۱۱۶ .
(19) خلیل، حنیف، ائینې، ادب محل، پېښور، ۲۰۲۱م، مخ ۸۳.
(20) صابر، صاحب شاه، کلیات، د سنګر شاه او ځیګرشاه په زیار چاپ، ۲۰۲۱ م، مخ ۱۵۹.
(21) همدا اثر، مخ ۱۱۰.
(22) همدا اثر، مخ ۴۰.
(23) خلیل، حنیف، علم و فن، یونیورسټي پبلشرز، پېښور، ۲۰۲۲م، مخ ۲۲۳.
(24) صابر، صاحب شاه، کلیات، د سنګر شاه او ځیګرشاه په زیار چاپ، ۲۰۲۱ م، مخ ۲۴۴.
(25) همدا اثر، مخ ۳۲۳.
(26) همدا اثر، مخ ۲۲۴.
(27) خلیل، حنیف، ائینې، ادب محل، پېښور، ۲۰۲۱م، مخ ۲۵۹.
(28) صابر، صاحب شاه، کلیات، د سنګر شاه او ځیګرشاه په زیار چاپ، ۲۰۲۱ م، مخ ۱۹۹.